مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۳/۰۷/۰۴

# د امریکا د جمهوررئیس جوبایدن وروستی وینا

## د طالبانو د حکومت په هکله

د تیر جمعې په ورځ د جولای د میاشتې په لومړی نیټه د امریکا جمهوررئیس په واشنګټن ډی سی کی د ژورنالستانو سره په لیدنه کی د طالبانو د حکومت په هکله د یوی پوښتنی په ځواب کی و ویل : « په افغانستان کی د طالبانو حکومت، د القاعدی د شبکی د ختمیدو په برخه کی د متحده ایالاتو سره مرسته کوی.»

د جوبایدن دی وینا په افغانستان کی د طالبانو د حکومت د اړیکو او په خاصه توګه په اونی ( هفته ) کی د (۴۰) ملیونه ډالرو په هکله چی امریکا یی طالبانو ته ورکوی د خلکو په ذهنونو کی بیل بیل سوالونه را اوچت کړی او په افغانی میډیا کی هم د بحث وړ موضوع جوړه شویده.

د جمهوررئیس جوبایدن دی وینا د ملګرو ملتو هغه راپور چی تقریباً یوه میاشت د مخه یی د طالبانو د حکومت په هکله خپور کړی او هم یی د طالبانو په ځینو چاراوکو باندی بندیزونه لګولی دی ، هم رد کړ او هغه یی د پوښتني لاندی راوست. د ملګرو ملتونو په راپور کی راغلی چی : « اوس د طالبانو د اداری لاندی په افغانستان کی نژدی شل (۲۰) وسله والی ډلي چی د تروریستی سازمانو سره اړیکی لری موجودی دي.» همدارنګه راپور کی په مشخصه توګه د القاعدی د تروریستي شبکې نوم په دی توګه زکر شویدی: « په دی هیواد کی وسله وال ګروپونه لکه القاعده شتون لری او د القاعدی ډله د ځان د بیا جوړوني د پاره لګیا ده کارکوی. د طالبانو اړیکي د دوه ډلو القاعدی او د تحریک طالبان پاکستان (TTP) سره پیاوړی دي.»

خو بایدن وای چی القاعده نوره هلته نشته، مونږ د طالبانو په مرسته هغه له منځه وړیده. اوس اساسی پوښتنه داده چی څوک ریښتیا وایی ، بایدن او که ملل متحد؟

ترکومه ځایه چی ما تر اوسه په دی هکله د افغان تحلیل ګرانو خبري او تبصري او ریدلي دي  حتی دوه نفره هم سره ورته نظر نه لری . د طالبانو پلوی تحلیل ګران وایی چی بایدن داخبره سمه کوی چی دلته هیڅ وسله والي ډلي ته ځای نشته او زمونږ له خاوری به هیچا او هیڅ هیواد ته خطر پیښ نه شی، خو داخبره یی ردوی چی د امریکا په مرسته یی په خپل هیواد کی امن راوستی او تروریستي دلوته د فعالیت اجازه نه ورکوی.

همدارنګه طالبانو لا د مخه د ملګرو ملتو هغه راپور چی ګوندی په افغانستان کی تروریستي وسله والي ډلي شتون لری رد کړی و او دا ادعای کاملن ناسمه بللي وه.

زما نظر په دی هکله دادی چی ، جمهوررئیس جوبایدن د انتخاباتو په درشل کی قرار لری. د امریکا خلک غواړی و پوهیږی چی د دوی د ټکس پیسي په هره میاشت (۱۶۰) ملیونه ډالر د کومو موخو د پاره افغانستان یا د طالبان اداری ته ورکول کیږي؟ مونږ ته دا هم معلومه ده چی هر پوزیشن ته کاندید شخص د انتخاباتی مبارزې په وخت کی له (۹۰٪) په لوړه کچه خپلو موکلینو وطنوالو ته دروغ وایی او په هر ډول چی خلک غولولی شی، هماغه میتودونه په کار اچوی. د سپتمبر د نهمی واقعه د امریکا څه چی حتی د ټولي نړی د پاره یو ډیره ترخه او نه هیرودونکی تراژیدی ګرزیدلي او مسؤلیت یی هم د القاعدی د شبکی غاړی ته ورلویدلی دی، نو له دی کبله د دی پیښي را وروسته چی هر چا د امریکا د جمهوری ریاست د چوکی د پاره ځان نوماند کړی دی د القاعدی د محوه کیدو د قهرمان په توګه یی ځان معرفی کړیدی او په دی توګه یی د خلکو د باور رایه خپله کړیده، او دا یی هم ور سره ویلی دی چی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دا مبارزه له ستر مالی لګښت څخه پرته پر مخ نه شی تللی، نو که موږ په میاشت کی په افغانستان کی له (۱۶۰ څخه تر ۲۰۰) ملیونو پوری ډالر لګولی وی او یایی لګوو، ارزښت لری ځکه چی د سپتمبر د نهمی نیټي په څیر د بلی فاجعی مخه پری نیسو. همدا رنګه هغه خپلو خلکو ته اطمنان ورکوی چی طالبان زموږ د لاس خلک او یا زموږ یو نړیوال ملیشه یی قوت دی، ترڅو چی زموږ د هدفونو د تحقق د پاره ګټور وی وی حمایه کوویی او که هر وخت بی ګټي شول محوه کوو یی، خو په یاد ولرئ چی هیڅکله هیڅ دولت ته د ملګرو ملتو په شمول دا اجازه نه ورکوو چی هغوی د دولت په توګه په رسمیت و پیژنی او دیپلوماتیکي اړیکی ور سره ولری.

ممکن زما نظر به هم نیمګړی وی خو چی د امریکا د زور زیاتی پالیسو ته او د طالبانو غرور او خود سریو ته سړی ګوری نو بل څه تری نه شی بود کولی. د دوی لوبی به همداسی روانی وی خو زجر او کړاو به یی زموږ مظلوم ولسونه ګالي او زموږ روښان فکره وطنوال به هم په بیلو بیلو لارو روان او یو پر بل به د بی باوریَ درجه ورځ تر بلي لوړیږی.

دشمن در کمین است و ما هوشـیار نمی شـویم
خانه ها درعمق زمین رفت و ما بیدارنمی شویم.

پای.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ